# د مهاجرینو روغتیایي مرکزونه

د رواني ټولنیز مالتړ خدمتونه مهاجرینو ته د ارواپوهانو او ټولنیزو کارکونکو لخواد مهاجرینو روغتیایي پهمرکزونو کې چمتو کیږي.

## د رواني ټولنیز خدماتو بخشونه؛

- انفرادي رواني مشوره ورکول
- د خطرناکو او زیان منونکو اشخاصو لپاره رواني ټولنیز مرسته
- رواني ارزونه او مرسته
- فامیل او جوړې مشوره ورکول
- د ټولنیز ملاتړ مشوره
- د روغتیا د لوستلیک زده کړه
- تاسو کولی شئ د ګروپ روزنې خدمتونه ترلاسه کړئ



## د طبي ټولنیزو خدماتو ځاني

د روغتون دننه موقعیت لري. د رواني ټولنیزو او ټولنیزو-اقتصادي ستونزوکومې چې د درملنې پروسې په جریان کې د ټولو ناروغانو لخوا تجربه کیږي، په ځانګړې توګه معلولین، یتیم، بې وزله، نالمنه، زاړه، کډوال، پناه غوښتونکي، د کورني تاوتریخوالي قربانیان، او د ناروغانو د وختي حل لپاره خدمتونه وړاندې کوي چې په دې خدماتو کې اولویت د هغه ناروغانو دي چې له بل ولایت څخه راغلي وي.

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتویات یوازې او یوازې د ترکیې د جمهوریت د روغتیا وزارت مسؤلیت دی او د اروپایي اتحادیې نظرونه نه منعکس کوي.

## څوک کولی شي خدمت ترلاسه کړي؟

یتیم، پریښودل شوي او پاملرنې ته اړتیا لرونکي معیوبین
بې وزله خلک د روغتیا بیمې پرته
د کورني تاوتریخوالي قربانیان
بې سرپرسته او ځورول شوي ماشومان
مهاجر او پناه غوښتونکي
د انساني قاچاق قربانیان
بوډاګان، کونډې او یتیمان
هغه کسان چې اوږدمهاله ناروغی لري
هغه خلک چې د رواني روغتیا ستونزې لري
په الکول او نشه یي توکو روږدي وي
بهرني اتباع چې نشي کولی د درملنې څخه ګټه پورته کړي

د اړتیا ته په وخت کې طبي ټولنیزو خدمات هغة کسنو ته ورکول کیږي چې ضرورت ورته لري، په عمده توګه هغه ناروغان چې د بهرولایت څخه راځي.

## مناسب ځای، ښه خدمت

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتیایي مرکز ته ورشئ.

sihhat

www.sihhatproject.org

sihhatproject

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# د رواني درملنې او رواني ټولنیز ملاتړ لپاره د مراجعه ځایونه



sihhat

## د حیات روغتیایي مرکزونه

د روغتیا په وړاندې د خطرونو څخه د افرادو او ټولنې د ساتنې، د سالم ژوندانه د هڅولو، د لومړنیو روغتیایي خدماتو د پیاوړتیا او دې خدماتو ته د لاسرسي د اسانتیا لپاره رامینځته شوی.

د دې مرکزونو په رواني ټولنیز ملاتړ ځانګې کې؛ ارواپوهان، ټولنیز کارکونکي او د ماشومانو د پراختیا متخصصین کار کوي، د مخنیوي او قابل د مخنیوي رواني روغتیا خدمتونه وړاندې کوي.

موجوده خدمات؛ انفرادي مشوره/کورنۍ مشوره، ټولنیزې مطالعې او ټولنیز ملاتړ، د ماشومانو او لویانو د روغتیا مشوره.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره، ستاسو د کورنۍ ډاکټر یا تاسو ته نږدې د مهاجرو روغتیایی مرکز سره اړیکه ونیسئ.**



## د رواني روغتیا او ناروغیو (رواني) کلینیکونه

### د رواني روغتیا او ناروغیو کلینیکونه

د لویانو او کوچنیانو د رواني ناروغیو کلینیکونه په روغتونونو کې خدمتونه وړاندې کوي. د رواني اختلالاتو لپاره بهر بستر او داخل بستر تشخیص او درملنې خدمات چمتو کیږي. ملاقاتونه د (ام هچ ار ای) له لارې کیدی شي.

### د رواني روغتیا ټول مرکز (TRSM)

دا د بهر بستر ناروغانو ځانګه ده چیرې چې د ټولنې پر بنسټ رواني روغتیا خدمتونه ناروغانو ته د شدید رواني اختلالاتو لکه شیزوفرینیا او باوپولر اختلالاتو او د دوی کورنیو ته په جغرافیایی ساحه کې چمتو کیږي.



## د ټولنې د رواني روغتیا مرکزونو خدمات څه دي؟

د ناروغانو لپاره انفرادي مشوره.

نظارت کول چې ایا راجستر شوي ناروغان د درملنې رژیم مرعات کویکه نه د ناروغ د پاملرنې پلان چوکاټ کې د ګرځنده ټیم لخوا د کور لیدنې کول.

ګروپي درملنه.

د رواني ټولنیزو مهارتونو روزنې چمتو کول.

د ناروغ حالت سره سم د حرفوي درملنې تنظیم کول لکه نقاشي، لاسي صنایع او میوزیک.

ناروغانو او د هغوی کورنیو ته د رواني زده کړې چمتو کول.

د ناروغانو یا د دوی خپلوانو سره اړیکه نیول.

د ټولنې په کچه د بدنامۍ ضد مطالعاتو ترسره کول.

### د ټولنې رواني روغتیا مرکزونو ته څنګه مراجعه کیږي؟

د دې خدماتو څخه د ګټې اخیستنې لپاره، ناروغ پخپله یا د هغه د خپلوانو لخوا غوښتنه کولی شي.

دا مرکز په خپل لاندې سیمه کې د شدید رواني ناروغیو ناروغان پیژني او د تلیفون له لارې ناروغ یا د دوی کورنۍ سره اړیکه نیسي.

ناروغ د مرکز په اړه د معلوماتو په واسطه مرکز ته بلل کیږي.

هغه ناروغان چې مرکز ته نه شي راتلای د ګرځنده ټیم لخوا لیدل کیږي او د دوی له حالت سره سم مرکز ته بلل کیږي.